# د مجارستان په سرحد باندې پناه غوښتنه

تاسي مجارستان یا هنګري هیواد کي یاست،او د دې هیواد رسمي ژبه مجاري ده . د پناه غوښتلو په جریان کښي د مورنی ژبي څخه ګټه اخیستلي شی او یا داسي ژبه وټاکی چه پرې ښه غږیږی او پرې پوهیږی.

مجارستان د اروپايي ټولني غړی او په مرکزي ختیز اروپاه کي پروت هیواد دی .

د هنګری هیواد او صربیا سرحدونه **د اغزن تارونو** په واسطه تړل شوي،په سرحد باندې **دوه ترانزیتی ځایونه** جوړ شوي (روسکه،او تومپه) چه تاسي کولای شی هلته مجارستان هیواد ته داخل شی ،او دپناه غوښتنلیک مو هلته وړاندې کړی.که چیري تاسي د صربیا هیواد نه د راتګ په وخت په دغو دوه ترانزیتي ځایونو کي ځان ثبت نه کړی اود خاردار سیمانو له لارې هنګري هیواد ته داخل شی،نو د نوي قانون پر بنسټ تاسي **جرم ترسره کړ،اومجرم** بلل کیږی.او پولیس تاسي بیرته صربیا هیواد ته استوي .

<u>ترانزیتي ځایونو په واسطي هنګري ته ننوتل</u>

که چیری تاسی له ترانزیتی زون له لارې نه مجارستان ته داخل شوی ،په پیل کي **د پولیسو لخوا تاسی تلاشی کیږی** او وروسته ستاسی **مشخصات** لیکل کیږي(ستاسی نوم اود کورنی غړي درڅخه پوښتي او که چیرې مو عمر ۱۴ کالو نه جګ وو بیا د ګوتو نښانونه درڅخه اخلي)همدا مهال پولیس پوښتنه کوي چه آیا تاسي په مجارستان کي پناه غواړی ،که چیری ستاسي ځواب بلي وه، نو دکډوالو چارو اداره په یوه کانتینرکي له تاسي څخه انتریو اخلي.

د نوي قانونونو پر اساس **هر پناه غوښتونکی ، په شمول د کورنیو او کمکیو چه عمر یې د ۱۸ او ۱۴ کالو ترمنځ وي او مشر وه نه لري** باید د پناه غوښتني د مرحلي ترسره کیدو پورې په ترانزیت زون کي پاتي شي. د دې معنی داسي ده چه تر څو مو د انترویو نه وروسته مثبت ځواب نه وي ترلاسه کړی ، د مجارستان خاورې خوا ته دننه نه شی راتلللی . تاسي کولای شی چي صربیا خوا ته بیرته ولاړ شی او ترانزیت زون پریږدی مګر په دې صورت کي د مجارستان د کډوالو چارو اداره د موجوده معلوماتو پر بنسټ ستاسي د غوښتنلیک په اړه خپله پریکړه کوي .

**بی سرپرسته ماشومان چه عمر یې له ۱۴ کالو نه کم وی** د ماشومانو هستوګنځی ته یا آزاد کمپ ته انتقالیږی.که عمر دې له ۱۴ کالو نه کم وی،هغه وخت چه پولیس ستاسي نوم او نور مشخصات لیکي باید پولیس ته وویل شي .که چیرې ستاسی د عمر په اړه کوم شک راولاړ شي نود کډوالو چارو اداره به په ترانزیت زون کي موجوده ډاکتر نه د عمر د تشخیص په باب د معاینې غوښتني وکړي . دا معاینه وړیا ده .،که تاسو ډاکتر سره موافق نه یاست نو تاسی کولای شی په عریضې کي د دوهمې معاینې غوښتنه وکړی ، دوهمه معاینه هم مفته ده.په عریضې باندې لاسلیک وکړه . که داسی کوم اسناد ولری چه ستاسو عمر تصدیق کوي باید چاراواکو ته یې ورښکاره کړی.

<u>**په سرحد کی د پناه غوښتني کړنلاره**</u>

**د کډوالو چارو اداره تاسي سره مرکه کوي،** په مره کي کي ورته ووایي چي خپل هیواد مو ولي پریښود او څه ستنومځه مو درلوده . دا هم باید ووایي چه له هنګری نه مخکی په تاسي کوم بل هیواد کي **پناه غوښتلي** لکه صربستان،کرواشیا،یونان او بلغاریا .دا مهمه ده چه تاسي په مفصل توګه توضیع ورکړي،کیدای شي چه تاسي ته ناخوښه او دردناکي خاطرې وي. ژباړن یا تجمان ستاسي په چوپړ کي دی . که چیرې د ترجمان په خبرو نه پوهیږي باید ووايي ، ترجمان نه مه ویریږی ،د انتریو په پای کي هر هغه څه چي تاسي وویل ، ترجمان بې **باید تاسي ته ولولي** که داسې وه نه شي باید له ترجمان نه غوښتنه وکړی .،او که چیری د کډوالو چارو مامور / ماموری ستاسي

بیان په بل ډول لیکلي وي ، ورته ووايي چه هغه اصلاح کړي . د خپلي مره کي يا انترويو څخه څانته فوتو کاپي وغواړی .،**ترجمان او د کډوالو چارو مامور ستاسي رازونه پټ ساتي تاسی کولای شی صادقانه وغږیږی .**

که چيرته يو اروپايي هیوادکي تاسي **نه دګوتو نښې اخیستی وي** ،نو ممکنه ده چه تاسي بیرته همغه هیواد ته واستوي. ستاسي غوښتنليک بيا په دی هیواد کی څيړل کيږي.دا د **دوبلیین کړنلاري په نوم يادیږي**.که تاسي په دي حال کي یاست،د کډوالو چارو اداره همغه هیواد سره اړيکي نیسي چه تاسي نه يي ګوتي اخيستي وي ، همدا هیواد ستاسي د پناه غوښتني پروسه په غاړه اخلي. که بل هیواد تاسي بيرته وغواړي نو د کډوالو چارو اداره تاسي ته يوه پريکړه درکوي. که چيري د بلغاريا او يا هم د يونان څخه راروان شوي یاست او په مقدونيا يا په صربيا کي مو لږ تر لږه ۳ مياشتي تيري کړي وي او مجارستان ته رارسيدلي یاست نو کوښښ وکړئ چه چارواکو ته يي ثابته کړئ. که چيري مو دا دري مياشتي ثابتي کړلي نو تاسي بيرته بلغاريا يا يونان ته نه شي استولی . له دي امله ، چه څومره ورقي تاسي ته صربيا او مقدونيا درکړي وي هغه وساتی او د کډوالو چارو اداري ته يي وربښکاره کړئ .

**د دوبلین سیستم** له مخي تاسی کولای شي چه دخپلي کورنئ د يو ځای کيدو اقدام وکړئ لکه خپلي ميرمن/خاوند او يا خپل کمکی ماشومان چي مجرد وي، هغوئ سره يو ځاي شی ،او که چيري ته خپله کمکی ماشوم يي،د مور پلار او نورو خپلوانو سره چه په يو بل اروپايي هیواد کي اوسيږي يوځای کيدای شي.که تاسي غواړئ چه خپلي کورنی سره يوځايي شی نو بايد د انترېو په پيل کی چارواکي باخبر کړئ .

د ثبت کيدو نه وروسته د کډوالو چارو اداره بايد ستاسي غوښتنليک په **۶۰ ورځو کي وڅیړي .**

د څيرني په نتيجي کي څلور پريکړې ممکني دې :

۱ ) د **مهاجر** په حيث قبولي : تاسي ته تزکره او ادرس کارت درکوي ، کار کولای شي. خپله کورنی راغوښتی شي ، ستاسي ماشوم ښوونځي ته تللي شي . تاسي سره مالي مرسته کيږي چه په دې ټولني کي خپل ځای ومونډی .

۲ ) د **محفوظ ژوند مستحق شخص** په حيث قبولي : تاسي ته تزکره او ادرس کارت درکوي ، کار کولای شي. ستاسي ماشوم ښوونځي ته تللي شي . کورنی په هغه صورت راغوښتلي شی که چيري په قانون کي ليکل شوي شرطونه پوره کړی شی. تاسي سره مرسته کيږي چه په دې ټولني کي خپل ځای ومونډی .

۳) **لندمهاله** قبولي : د کډوالو چارو اداره هر يو کال وروسته ستاسي قبولي څيري.لکه څرنګه چه عام بهرنی کار کوي ، همغه قانون په تاسي هم پلي کيږي. په دې اسنادو خپله کورنی نه شي راغوښتلی .

۴ ) غوښتنليک ته رد ځواب ( **منفی ځواب** ترلاسه کول ) : منفی ځواب مو څکه ترلاسه کړ چه د کډوالو چارو اداره دا ګمان کوي چه خپل هیواد مو با امنه دی . که منفي ځواب سره موافق نه یاست ۸ ورځو کي دننه محکمي ته خپله عريضه وړاندې کړی او د شخصي مره کي غوښتنه وکړی . په عريضي کي تشريح ورکړئ چه دا منفي پريکړه ولی د منلو وړ نه ده . که مرستي ته اړتيا لري تاسي کولای شی چه د مجار هلسنکی شورا وکيل او يا د ملګرو ملتونو د پناه ورونکود چارو د عالی کميشنرئ کارکوونکي څخه مرسته وغواړئ . که محکمه هم ستاسي استيناف رد کړي او د کډوالو چارو اداري سره په توفق ورسيږي تاسي کولای شی چه بيا پناه وغواړئ که چيري مو د پناه راوړلو په حالاتو کي کوم بدلون راغلی وي يعني نوي پيښي رامنځته شوي وي . تاسي بايد خبر اوسی چه دوهم غوښتنليک په جريان کي تاسي په کمپ کي اوسيدلي شی مګر تاسي د نورو مرستو مستحق نه یاست . که چيري تاسي د منفی پريکړې پر ضد اعتراض وه نه کړی تاسي به له مجارستان څخه اخراج کړي.

تاسي به ازاد کمپ ته واستوي که چيري مو قبولي ترلاسه کړه . په ازاد کمپ کي يوه مياشت ژوند کولای شی . هلته په همدې مودې کي تاسي ته تزکره صادروي د اوسيدلو ځاي ، خوراک او طبی مرستي درسره کيږي .

په لاندې نقشي کي د مجارستان ازاد کمپونه ليدلای شی .

PASHTO

http://www.helsinki.hu/en/info/

په ترانزيت زون کې موجوده مرستې او خدمتونه

که تاسې په ترانزيت زون کې پاتې شوئ ، تر څو مو څواب راشي تاسې ته **يو کټ** او هره ورځ **خوراک** درکول کيږي، کورنی په جدا کانتينرونوکي اچوي ، . په هرې برخې کې بيل تشناب د حمام ځای ، د کاليو مشين ، د خوراک ځای او ټولنيز يا د خبرو اترو ځای موجود دی . که چيرې روغتيايي ستونزه ولرئ لطفاً داکترسره تماس ونيسي هره ورځ دسوسيال مامورين شتون لري، نور خدماتی سازمانونه هم هره ورځ ترانزيت زون ته راځي چه پناه غوښتونکو سره مرسته وکړي او ماشومانو لپاره بيلا بيلې برنامې جوړې کړي. د زدکړو په کال کې (سپتمبر نه تر جون مياشتې پورې ) ماشومان (۶-۱۶ کالو پورې) کولای شي چه په منظمو کورسونو کې برخه واخلي، دا د يو عادي ښوونځي په توګه د دوشنبې نه جمعې پورې هر سهار له ۹ بجو نه تر ۱۱:۴۵ دقيقو پورې دوام لري او معلمين درس ورکوي . د ۳ او ۶ کالو تر منځه ماشومانو ته د اوونی په منځ کې د سهار ۸ بجو نه تر مازديګر ۴ بجو پورې د وړکتون امکانات په چوپړ کې دي.

که وکيل ته اړتيا لرئ نو د کډوالو چارو ادارې ته يوه عريضه وليکئ او د داکتر کوواچ تيميا يا بلاژ يوليا ، د **مجارستان هلسنکي کميټې** وکيلانو سره د ملاقات غوښتنه وکړئ . تاسې دولتي وکيل هم غوښتلی شئ ،د مجارستان هر وکيل نيولی شئ چه هغه د مجارستان د وکيلانو کوټې غړيتوب ولري. که چيرې دولتي وکيل غواړئ نو د دوشنبې نه تر جمعې پورې خپل غوښتنليک د کډوالو چارو ادارې ته وړاندې کړئ.د وکيلانو دواړه ډول خدمتونه په وړيا ډول ستاسې په چوپړ کې دي . پيسې مه ورکوئ .

تاسو **د ملګرو ملتو** مامورينو سره هم کولاي شي چه خبره وکړي دوي هره ورځ له ترانزيت ځايونونه ليدنه کوي،په ترانزيت ځايوکی تاسو **صرف تر ۲۸ ورځی** دپاره پاتيکيداي شي،که تاسوته له ترانزيتي ځايونه په آزاد کمپ او يا بندي کمپ ته واستوي،بايد تاسود مجار هلسنکي کميټي چاپ شوي طرزالعمل يا معلومات راوموندي،چه دخپل حقوقونه باخبر وسي .

لاندې **نقشه** ښيي چه په مجارستان هيواد کې په کومو ځايوکي آزاد او بندي کمپ واقع شوِي ده . ملګرو ملتونو د پناه وړونکود چارو د عالی کميشنرۍ کارکوونکو سره هم ملاقات کولای شی ، دوي هره ورځ هلته موجود وي .




**PASHTO**

http://www.helsinki.hu/en/info/